150

منزلونه

تدوین او سریزه
د
پوهیالی بریالی باجوړی

۱۳٦٤

ACKU

Download from:aghalibrary

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032971 3

منزلونه

دمرحوم خاطر اپریدی دشعرونو مجموعه

د

بریالی باجوړی

تدوین او سریزه

خپروونکی

د قومونو او قبایلو وزارت

دنشراتو او تبلیغاتو ریاست

۱۳۶۴

Download from:aghalibrary

خیبر په پښتو ادب کې

د خیبر پښتنی اوتاریخی درې د پښتنو نومیالیو د مبارزو
او سر بلند نود تاریخ یو لوی تاتوبی دی .
د خیبر درې د لرغونو زمانو راهیسی د تاریخی او اقتصادی
اهمیت لرونکی ده او دنور و غرونو او درو و پرتله یی نوم
په هر ځای کی خور دی .
د خیبر درې همیشه د کاروانونو د تلو راتلو لار د پښتون قام د
لښکرو سنگر او د یرغلگرو سره د جگړې د تاوده ډگر حیثیت
لری .

د پیر روښان د نهضت سنگر د درې یاخان اپریدی او
ایمل خان مومند د شوګیرونو او تکیرونو مورچه ، د ملتانخان
غازی او عجب خان د غور زنگونو سیمه د مغلو او پرنگیانو
پوښتنا کید و هدیره همدغه د خیبر درې ده چې هره ټوپی د د غو تاریخی پښتنو

Download from:aghalibrary

ترجمه نی کوی کوم چی زمونږ د تاریخ ځلانده بابونه دي اودهمدغه تاریخي اهمیت په درلودلو سره دخیبر کلمه د پښتو په ادب کې رانغوته او په پښتو شعر و شاعرۍ کې د پښتنو د مبارزو کارنامو او ویاړنو په مفهوم وکارول شوه چې په دې توګه د پښتو اد بیا تو په منځنۍ دوره کې د خوشحال خان خټک نه رانیولې بیا تر اوسنۍ د ورځې پورې داستعمال رواج لري .

خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کې دغه کلمه خوخوځایه کارولې ده خو په یوه قصیده کې د خیبر د رې یاد داسې کوي :

دخیبر دره یې سره کړله په وینو
په کړ په یې هم روان کړ دندوکار

چې بیا دغه کلمه دیو مضبوط سنګر په مانا په پښتو غزل کې هم رانغوته او استعمال یې په مختلفو اړخونو کې زیات شو .

علي خان د پښتو ژبې تکړه شاعر یې پدې دول یادوي :

دکوشې ګوټ به دې پرې نه زدمه رقیب ته
اپریدی یمه مغول ته خیبر نیسم

اوکله له منځنۍ دورې را تیر شو نو اوسنۍ دورې شاعرانو هم د دغې تاریخي درې اهمیت له نظره نه دی غورزولی او په خپلو

Download from:aghalibrary

شعر ونو کی ورته په زیات اهمیت قایل دی چی په ډیر ویاړ یادوي.
د پښتو ژبی نامتو اواور ژبی شاعر اجمل ختک یی دا ډول یادوي؛

د خیبر درهٔ خو لارد تلور را تلوده
په کابل او پیښور کی افغان یو دی

که د خیبر د درې تاریخی اهمیت له ډیری لرغونې زمانی سره ارخ لګوي او د پښتون اولس د اتلو جنګیالیو او تورزنو میړنو زانګوده نوله بله پلوه د غه تاریخی خیبر پخپله شګلنه خاوره او وچو سپیرو ترو کی وخت په وخت داسی دادب نومیالی زیږولی چی د پښتو ادب به پرې د تل لپاره ویاړي.

د خیبر په د غو وچو تړو کی د پښتو ژبی د شاعرانو پیدا کیدل په خپله د خیبر د درې هغه تاریخی اهمیت دی چی خپل هر بچی ته د پلرونو او نیکونو د مبارزو، سر بلند نوا او میړانې د هنداري مثال لري چی بیا د غه شاعران ورځ په ورځ د ومره زیات شول چی یوه لویه ادبی حلقه یی جوړه کړه.

که په اتلسمه پیړۍ کی د پښتو ژبی دوه لوی ادبی مرکزونه کندهار او پیښور یاد وو نو د خیبر ادبی حلقه چی خانګړی خصوصیات لري هم د یاد ولو ورده چی د ډیرو پخوا وتګره شاعرانو لکه قلندر-

Download from:aghalibrary

اپریدی ، یونس خیبری ، میرا اپریدی ۰۰۰ اونورو زیاتو
شاعرانو تاتوبی و اودغه درې واړه حلقې یوله بله سره په تماس
کې وې اود پښتو ژبې د ادب په خدمت کې لګیا وې چې د دغه
تماسونو په هکله د پټې خزانې د مولف محمد هوتک هغه خبرې
راوړې چې د یونس خیبري په باره کې یې کړې دي اود هغه د پیژند-
ګلوي په هکله داسې وایي :

„ذکر د شاعر شیوا بیان محمد یونس خان ؛ هسې روایت
کا زما تربور رحمت هوتک چې په سنه (۱۱۳۰)ھ پینبور ته تللی وم
اوهلته په خیبرکې محمد یونس خان شاعر شیوا بیان ولیدا و د ده
اشعار مې سماع کړل » (۱)

نومورې ویلی شوچې د خیبر دره لاهغه وخت د شعر او ادب زانګو
وه اودغه د شعر و شاعرۍ سلسله په خیبرکې له نیکه مرغه
تراوسه جاري ده ۰

خو په اوسنۍ دوره کې چې پښتو غزل کوم معراج ته رسیدلی هغه
د معاصر غزل د پلار امیر حمزه خان شینواري برکت دی ۰
حمزه صاحب نه دا چې یوازې په خیبرکې د پښتو غزل لوړ
معراج ته ورساوه او بې شمیره غزل بول شاعران یې وروزل

Download from:aghalibrary

بلکی د ټولې پښتو ښوا د غزل بولو شاعرانو توجه یې ځانته راوګرځوله
اود استاد حمزه په پله روان شول .

حمزه صاحب د پښتو غزل جامه په نازک خیالۍ او نادر وتشبیهاتو بنکلې کړه او په محتوا کې د پښتون اولس پښتنې عناصر او کړه وړه ور داخل کړل په پښتو غزل کې د ژوندانه مسایل ورځای کړل اود خوند ، رنګ او مقصد په یو ځای کید و سره یې پښتو غزل د پخوالي پوړۍ ته ورساوه نو ځکه خو وایي چې :

ستا په اننګو کې د حمزه د وینې سره دی
ته شوې د پښتو غزله ځوانه زه دی بابا کړمه

نن ورځ په ټول پښتون غزل کې د حمزه د غزل ځانګړتیاوې وینو اودا به د پښتون غزل نیک مرغی وي چې د غزل د کاروان په سر کې لګه د حمزه صاحب غوندې سالارلرې .

حق به ادا نن د غزل نه کړې
پل چې هر څوک زما په پل نه کړې

حمزه صاحب د پښتو د معاصر غزل په میدان کې د پر پلویان پیدا کړل لکه لعل زاده ناظر ، خاطر افریدی ، خبیر افریدی ساحر ، باصر شینواری ، سیماب شینواری ، جوهر شینواری

Download from:aghalibrary

عبدالقیوم کوثر ، مراد شینواری ، اکرم خان فاروق ، احسان ظهیر ، یار حسین سائل اوداسی نور چی هر یو پخپلو غز لود پښتو غزل رنګین کړ او د حمزه صاحب پدغه نوې او ځانګړې لار روان شول یو پښتون محقق د حمزه صاحب په باب لیکی :

« حمزه صاحب ځانته رنګ دی ، خپل انداز یی دی نوی علامات ، استعارات او کنایات یی متعارف کړی دی د زور پر روایت نه یی څنګ کړی دی د دی دور نماینده شاعر دی د وخت نه مخکی پیدا دی » (۲)

همدغه وجه ده چی ما نن که په خاطر خبری کوو او یا کوم بل شاعر باندې نود حمزه صاحب ذکر به هر وم رو کوو ځکه چی پدغه لارکی هر غزل بول شاعر یا د حمزه صاحب نه او یا به د هغه له کوم شاګرد نه متاثر وي او دغه سلسله په مخ روانه ده و راندی څی او نوې نوې غوټی سپرلۍ کیږی د حمزه صاحب د غزل د دغه سپرلی په باب وایی :

حمزه سپرلی لا د خیبر نه نه ځي
د هری غوټی په سپرید و بنسکاري

لکه څنګه مخکی موږ چې وویل د خیبر د کلمی استعمال په پښتو ادب کې

Download from:aghalibrary

رواج شو او هر شاعر یا په نظم او یا په غزل کی د دغی تاریخی (دری) یاد
وکړی چی دلته د امیر محمد ساغر خو بیتونه راوړو او گورو وچی نومورې
شاعر د خیبر درې ته په کوم اهمیت قایل دی ۰

په دی تور هسکو غرونو کی خیبره
ستاد نوم په دی حرفونو کی خیبره
ستاد لار په کبر لیچونو کی خیبره
ستا په خاورو او گردونو کی خیبره
د قومونو تقدیرونه پریشان دی
د تاریخ حُلند بابونه گواهان دی

خیبر افریدی یی پدی ډول یادوي :

خاندی زلزلی په خیبر راوله
وی خوتندرونه په بریښنا پوری

او مصری خان خاطر په خومره ښکلی ژبه او نوی خیال یادونه
کوی :

خاطره یاردی په خیبر کی اوسی
ټوله درې له سپیلنو ډکه شه
داد نمونې په توگه د خیبر د کلی لنډه یادونه وه د خوتنو په

Download from:aghalibrary

شعرونو کې اوکه نه د خیبر په باب د شعر یو مکمل کتاب شته
چې هر شاعر یې د خیبر په باب مکمل شعرونه ویلی دی.

خاطر او د هغه شعر:

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
ګنې خو خیبر کې څه دی بې له خاورو

مصري خان خاطر د اکبر خان زوی په قام اپریدی
زخه خیل او د پښتو ژبې د نامتو اولسي شاعر خسرو اپریدی
خوریی دی. په ۱۹۲۹ع کال کې دنیا ته راغی.
خاطر لا د غیږې ماشوم وو چې د پلار او مور سیوري
یې له سره کم شو او ده د ژوند تراژیدي پیل شوه.
نیانیکه یې هم د عمر په پره برخه خوړلې وه او په آخر عمر وو
خو د خپل یتیم لمسي پالنه او روزنه یې په ښه شان وکړه.
خو کله چې لږ را لوی شو نو بیا یې دنیا نیکه لاس ته کینا ستل
ښه وو نه ګنل او د دیار لسو کالو به وو چې خواري مزدوري
یې شروع کړه.
مراد شینواري د خاطر د شاعرۍ په باب وایي:
په ۱۹۴۹ع کې باصر په لوارګي کې د چایو دکان کولو دا

دکان د خیبر د شاعرانو د نامتی پاستی مستقل مسکن وو.
خاطر همدې دکان نه خو پیښې راوکړې داهم د دغه
مجلس تاثیر وچې څه موده پس ده هم په غزل ویلو
ګوتې پورې کړې ۰ ،، ۳ ،

د خاطرې په ادبی دنیا کی د پښتو ژبې نامتو غزل بول
شاعر لعل زاده ناظر چې ور وسته له حمزه شینواری
د وهم استاد دی د پر زیارګالی ، د شعر و نود اصلاح
کولو سره سره یی هغه ته لیک لوست هم ورښوده .
او داځکه چې ناظر صاحب په خاطر کی د پیر زیات غزلیز
استعداد لیده او دهغه را تلونکی ور ته ر و ښانه او
ځلانده ښکاریده او د ناظر صاحب د غه پیش ګویی
څه هسی نه وه او تولې پښتو نخوا ته پته ولګیده چې خاطر
د غزل په دنیا کی اوچت او ځانګړی مقام و موند او د
هرچا په خوله بیا د ده غزل وو .

د ناظر صاحب د زیات زیار نتیجه داشوه چې خاطر
د پر زر هغه منزل ته ورسید چې د برګلونه یی غوښتل.
خیبر اپریدی د خیبر انګازی ، نومی کتاب کی په دې

هکله وایی :

" دچاملاصاحب نه یی حروف تهجی زده کړی ووخو لیک اولوست ناظر بابا ور ښودلو ..... تخلص هم ورته ناظر غوره کړی وو .

ناظر بابا دخاطر اپریدی سره ډیره خواږی کړی وه ، دخاطر اپریدی دخولې نه ناظر بابا سدوخیله اوزغه-خیله ژبه پریکړه اوددې په ځای یې ورته شاعره ، ژبه وره ، ژبه ولګوله ۰ " ، ٤ ،

مصری خان خاطر رومبی دخیبر رایفلز په بن کی مالیار وخووایی چی څه موده ور وسته یی پدغه مالیار توب کی هم زړه تنګ شواودغه کاریې پریښود . بیایې ګنډې شروع کړې خوپه هغی کی هم څه ګذاره ونشوه اود خیبر اپریدی په قول په ورځوکی یوه ورځ خاطر اپریدی دکابل نه څه دسینګار سامان دتجارت په غرض پیښور ته راوړو په پیښور کی هم هغه سامان سینګار دده دنرخنامی نه ارزان وو " ، ٥ ،

پدې توګه خاطر په دغه کار کی هم تاوانی شواودژوند

د پرې تودې سړې يې ولیدې ، له زیا توستونزو
سره لاس په ګریوان و او غربت خوپې همیشنی
ملګری و .

همدغه بې وزلی وه چې خاطر ته یې نارو غتیا ورپه
برخه کړه دبې وزلۍ نارو غتیا د غریبانو نارو غی یعنی
نزې رنځ چې د خاطر غزل خمیز خاطر یې سوری
سوری کړ . خو خاطر د ټینګی ارادې او مضبوط همت
خاوند و د ژوند انه هرې ستونزې ته لکه غرو لاړ
و ، غربت ، نارو غی او عشق د خاطر په اشعارو کی
دومره سوز پیدا کړ چې په زړونو خولې لګوي او په ذهنونو
پاچا هی کوی ، په هر شعر کی دومره درد ونه را نغښتل
شوي دی چې هغه به خاطر په خپله وړه سینه کی
څنګه ساتل ؟

دا حسرتونه دا غمونه تنګ ګوګل زړه ګیه
له دې خو ګورنبنه دی هر څوک د تیارونه ډک دی
خو د غه درد ونه د خاطر لپاره ډېر خوا زه وو او دا د هغه
مشغولا وه چې خپل ژوند یې پرې تیرولو او په خپلو اشعارو

کی داسی خوابونه ستایل چی گوندی دی
په دغودی دونومین دی .

وستایه د پردیار تراخه خاطره
چې په کتاب کی دی خوابونه پاتی شی

خاطر په ونه تیت و ، رنګ یې زیړ زیبنلی و ، څیره یې د زمانی
ناخوالو داسی زیبنلی او وچه کړی وه چې وینه ورکی هډو
پاتی نه وه خو په ۱۹۷۰ع کال د اګست په دوه ویشتمه نیټه
یې چې په سوری تتر کی کوم څاښکی وینه پاتی وه هغه
یې هم را وګرزوله او دتل لپاره یې سترګی پټی شوې

هیڅ خاطر دې خزان ونه کړ و خاطره
څنګه خړه او بې ګله دنیا بنسکاري

په ربنتیا هم خاطر د پښتو ژبې د غزل بولو شاعرانو په لړ
کی هغه نادره مرغلره وه چې ایرو کی پټه وه اوله جوتید و
وړاندې دتل لپاره پټه شوه خو بیا هم د خاطر د شاعری
غږ یوازی د خیبر په ښنکلی اوتاریخی دره کی پاتی نه شو ،
په د پرلږ وخت کی راووت ، خور شو او د پښتونخوا هره
دیمی ته یې ځان ورساوه ، دهر چا په زړه کی ځای ونیو

اودهرچا په خوله د خاطر غزل و .

بنکلی به سر تیت کړی یاره ستا په تصور کې
د هر خاطره ستاد غزلونو په سر ونو

دخیبر په وچوتر و او سپیرو لمنو کی د خاطر د غزل رنګینی دهغه دهمیشنی درد او بی وزلی وجه وه چې دده اودده دنور و وطنوالو لپاره یې خپل ګران وطن اغزی اغزی کړی واو همدغه مفهوم خاطر په یو بنکلي اونوي بڼه کی داسی ادا کوي .

خو بنه مې ستا په بڼو غشوده ویشتنه د زړه
ګنی وطن خوهسی یاره دا غزونه ډک دی

د خاطر د غزل ژبه دومره خوږه ده چې که چیرې ژوند ورسره ملګرتیا کړی وای نو نن به د غزل په میدان کی یولوی استاد اود خانګړی لار سالار و . د خاطر غزل ساده اوروان دی خو په ساده توب کی دومره خوږ اوداسې نادر وخیالاتو او تشبیهاتو پیونکی دی چې دنور وشاعرانو ورته هډو پام هم نه و . څنګه چې د خاطر ساده ژوند له درد ونو اوکړاونو ډک و نو همغسی غزل هم ساده خوله سوزاو درد نه ډک دی .

دخیبر دسیمی تربیم دخپل در دیدلی ژوند کړاو دمینی
ناخوالی دغزل په خوږ واو رنګینو الفاظو کی راوړل د
خاطر د شاعری خانګړی لاره ده ۰
دخاطر شاعری مواد دخپل پښتون ماحول کړه وړه دی په
خپل چاپیریال کی چې څه وینی او دی تري متاثر کیږی هغه
په غزل کی راخلی خو په ساده بڼه او د شعري بنکلا په
چوکاټ کی یې په نوې نازک خیالی او په خوږه اوږوانه ژبه
وړاندی کوي او دا د خاطر د شاعری خانګړی لاره ده ۰
مراد شینواری دخاطر د شاعری په هکله وایی ؛
"خاطر لکه څنګه چې په خپله ... او مختصر دی هغه شان
دده فنی چاپیرچل په پرو وړکوتی ولی په پر رنګین دی خو خنی
احساسات او جذبات موږ هنګامی او فروعی ګڼو او د غزل
په احاطه کی یې د خایولو وړ نه ګڼو ولی خاطر هم د غه
کیفیات د غزل روح ګڼی هغه ته د احساس او جذبې معمولی
شان بنکالو هم د تغزل نغمه بنکاری حالانکه هغه د مجموعی
نغمی یوه منفرده او خان ته پرده وی خو خاطر په خپل
خوږ بندش او ساده اسلوب کې معمولی کیفیت هم دا سی

احاطه کوی چې موږ په یوه پرده کې هم د مجموعې نغمې
ټول زیر و بم په وضاحت سره اوریدی شو.....
چې څه وینې څه محسوس کوي هغه وایي اولیکي همدغه
ساده ګي د خاطر د شاعرۍ ځان ده او همدغه یې د مقبولیت
وجه » ،۶،

خوله د غوڅانګړتیا وسره سره هغه څه چې د خاطر په شاعرۍ
کې شته هغه د موسیقۍ سره دده د غزلو هم اهنګتوب دی
که وویو چې د غزل ویل په پښتو موسیقۍ کې له کوم وخت نه
زیات رواج او عام شو نو هغه د خاطر غزلې وي چې د
پښتون اولس یې په موسیقۍ کې له غزل سره اشنا کړ او پښتو
غزل په موسیقۍ کې لاړ پیدا کړه او همدغه د خاطر د غزلو
د عام مقبولیت او شهرت وجه وه چې نن ورځ په ټولـــه
پښتونخوا کې د لویو او وړو او په ځانګړې توګه د پښتنـو
سندرغاړو په خوله د خاطر غزل دی .

د خاطر د شاعرۍ د دغې ځانګړتیا په هکله فضل الرحمن صابر
د مردان وایي „ د خاطر د موسیقۍ سره د برلګاو ووځکه دا
خصوصیت د هغه په غزلو کې بنکاره دی هغه د داسې بحرونو

انتخاب کړی دی چې پدې کې ترنم زیات وي دده قافیې شګفته وي ، خاطر اپریدی په غزل لیکلو کې ځانته رنګ پیدا کړی دی ، مختصر بحر ونه ، وحدت خیال او موسیقی دده د غزلو خصوصیات دی » ۷،

نو پدې توګه ویلی شو چې د خاطر د غزلو برکت وچې په پښتو موسیقۍ کې غزل رواج شو او همدغه وجه وه چې غزل په عوامو کې هم مروج شو او عوامو له غزل سره مینه پیدا کړه اوس ورځ په پښتو موسیقۍ کې د غزل برخه د نه ده او پدې ټولو کې له هرچا نه د خاطر برخه زیاته ده .

راج ولی شاه خټک پدې هکله وایی « زما په خیال د خاطر نه وړاندې د پښتو اکثریت د عوامی ادب ذوق خو لږلو ولی سوچه ادبی ذوق د ډیرو کمو خلکو وو غزل د خاطر نه مخکې په پښتو عوامو کې دومره مقبول نه وو او غزل ته به اکثرو عوامو د پښتو موسیقۍ هندوستانی لوبی وې ... خاطر په هغه شاعرانو کې یو روښ مقام لري چا چې پښتنې موسیقۍ کې غزل ته یو مقام او رنګ ورکړو او هم په عوامی ذوق کې یې غزل وړ د ننه کړو » ۸،

ربنتیا هم خاطر په خپل عزل پښتو موسیقی نوره هم خوندوره
کړه او موسیقی د اسی مجلس به نه وي چې هلته دې د خاطر
او یا بل پښتون شاعر غزل له سازسره ونه ویل شی ۰
د خاطر په اشعارو کې چې څه شی زیات تر سترګو کیږي هغه
دده ځانګړی عشق او بل دده د پښتنکلی او تاریخی وطن خیبر
یادونه ده که څه هم دې زیات په خپلو اشعارو کې له خپلې مینې
نه غږیږي او ځای په ځای د خپل یار پښتنکلا ستایی اوله
هجران نه یې فریاد ونه باسی خو خپل تاریخی وطن خیبر
هم د خیبر دنور و شاعرانو په پرتله د هر یاد وي او د اسی
برینښی چې د دغې تاریخی درې تاثیرات پده باندې دومره
زیات دی چې دیار سره د مینې په راز و نیاز کې یې هم له
یاده نه باسي ۰ د خیبر پښتنکلی د ده دیار د نظر ماتی لپاره په
سپیلنو د کیدل غواړی او په څومره ساده او خوږ و الفاظو
کې دغه نادر خیال د شعر په قالب کې ځایوي ۰

خاطره یار دې په خیبر کې اوسی
تږی له سپیلنو ډکه شه

او هم غزل خپل محبوب ته نه د سیږی د ولې کړاو نه ډک

انتظار باسی اوترهغه اوبنکی تویوی چې دخپل اشنا سره وصل شی لکه دخیبر اوسید ونکی چې دخپل فصل لپاره ـ بارانونو انتظار باسی دغه ساده اوبنکلی تشبیه دده دخپل ماحول یوځرگند حقیقت دی دخپلو اوبنکو سره څه ښه تشبیه کوي ۰

څوچې خدای راکړی نه وی نور به ژاړم
دخیبر فصلونه تل په بارانو شی

خوله دې موضوع سره سره د خاطر په اشعارو کی پښتو اوپښتونواله پښتنی روایت یوپه یوبنکاري چې دخیبر دغزل بنکلی اوپه زړه پوری محتوا جوړوي اودپرومبی ځل لپاره دپښتو ژبی دمعاصر غزل پلار استاد حمزه دغه لاره هواره کړه اوبیا دخیبر اوځینو نورو سیموشاعرانو دغه لار ونیوله ، خاطر هم له دغې موضوع نه بې تاثیره نه دی پاتی شوی اوپه غزلو کی پښتنی عناصر جوت بنکاري ۰

که یې هر څومره سره ضد نیولی
ای زما مینی د پښتو ډکه شه

همدارنگه د پښتون اولس د میلمه پالنې دغه تاریخی

عنعنه په څه ښه ډول بیانوي :

خپله غمه دیار غم مې لږ میلمه دی
تا به وکړمه وار وکړه که دې وار شی

اوپه دې بل بیت کې :

چې د نړۍ کور له دې راشی پروا نشته
ای خاطره خاطر تل د میلمنو شی

خاطر دخپل چا پیریال د نابرابریونه هم بې تاثیره نه دی پاتی شوی اوپخپلو شعرونوکی کله کله د غه حالت ته هم ګوته نیسی اووایی :

د وخت د ګذارونو می داغونه نه جوړیږی
زما سره سپرلیه ستا ګلونه نه جوړیږی

یا :

خوا ږه تراخه شو د خوږ و نامه پاتی ده
د بد و شپې دی او د ښو هسی نامه پاتی ده

دعشق اومینی موضوع چې په پښتو شاعری کی له لرغونو زمانو
راهیسی رارواته ده اوتر اوسنی دورې پورې رارسی نه زیږیدونکی
اوهمیشنی موضوع ده چې دهر شاعر په اشعارو کی ښته خو
دخاطر په اشعارو کی دغه خواږه ډره نه ده اوپه دی موضوع
کی هغه داسی مرغلری پیلی چې دده دلوی مهارت ښکارندوی
کوي :

دریغه چې داستاد اسنګو خوله هم زه وای
پرخې ته چې ګورم دګلونو په سترونه

لکه څنګه چې مخکی یادونه وشوه چې له خاطر سره ډیر غمونه
ملګری وو لکه دنارو غی غم اودعشق غم ، خو په دې ټولو غمونو
کی هغه ته دعشق غم خوږ دی چې دژوند دتیرولو یوازنی مشغولا
همدغه غم دی اوپه هیڅ وجه یې له لاسه نه ورکوي .

غمونه داشنا زه اوس په هیڅ نه هیروم
ای غمه ددنیا که هیرولوله راځی

اوچې کله یې دغه غمونه دپرتنی نوډیارتول تراخه دخپل
کتاب خوابزه ګڼی اوپه رښتیا هم دغوتر خو دخاطر غزلی
دومره خوږې کړې چې په بیا بیا لوستلو پرې لوستونکی نه

مرپیږی او دیارد ترخو ستایل یو نوی خیال دی .

وستایه د پر دیار تراخه خاطره

چی په کتاب کی دې خوابږه پاتی شی

خو خاطر د غه تراخه غمونه په خندا تیرول په خوله یی څه نه ویل او پټ پټ یی گوگل خوړ. خاطر په مزاحیه شعر و نو کی هم لوی لاس درلود او دخیبر اپریدی سره حُینی وختونه د مزاحیه شعر و نو مشاعرې کولې چې خیبر اپریدی په دی هکله وایی :

« د خاطر په هغه وچه سوی لوې سینه کی د پرلوی مزاحیه خیز خاطر در زید و که خاطر چرې مزاحیه لیکل کولی نو ادب ته به یی له دې نه زیاته صحت منده او مفرح القلب سرمایه بخښلی وه » ۹،

خوله بده مرغه د خاطر کوم مزاحیه شعر نه دی پاتی او که پاتی وي نو زموږ لاس ته نه دی راغلی .

د خاطر شعر ساده او روان دی مغلق او پیچلی مسایل نه استعمالوي د خپل پښتون چاپیریال نه الهام اخلی او هغه څه چې دی نرې متاثر کیږی په خپل شعر کی راغاړی او

په خوږه ژبه یې خپلو عواموته بیانوي ، بنکلی بنکلی تشبیه ګانی ، نازک خیالي اونوی نوی خیالونه دموسیقی سره هم آهنګوب دخاطر د شعر هغه ګانه ده چی دده شعر یی له نورو نه جدا کړی دی اود لوستونکو اواوریدونکو په ذهنونوکی ځای نیولی دی .

لکه څنګه چی مخکی یادونه وشوه له خاطر سره په ادبی دنیا کی ناظر صاحب دپر زیارګالل نومونه په ویاړ سره ویلی شو چی د ناظر صاحب زیار اوزحمت داسی ځای نیولی چی د پښتو ادب به یی تل یاد ساتی اوداخبره سمه ده چی اوس هم ویل کیږی "چی ناظر نه وای خاطر به نه وای ،،

ناظر صاحب دخاطر لپاره دخاطر د تخلص غوره کول دهغه ژور نظر اودور اندیشی پر اساس وچی هغه ورکی پټ - استعداد ونه لیدل چی لاهغه وخت نه وو بنکاره شوي اوورو سته را بنکاره شو دغه تخلص له هغه سره لکه خپله اوګڼه ولګید او په خپلو غزلوکی داسی استعمال کړ چی حیث شاعر خپل تخلص پداسی مترادفاتو سره اوپه داسی کیفیت نه واستعمال کړی لکه خاطر چی پری څومره د غزل

مقطع بنکلی کړی ده . لکه پدې لاندې بیتونو کې :

زما خاطر خاطر دې اور کی وسو
اوس یی لوګی په اسویلو کی وینم

یا :

دا زه خاطر ستا د خاطر د پاره
په خپل خاطر د غم چپی تیروم

خاطر اپریدی د پښتو ژبی په معاصرو شاعرانو کی درومند اوله ارزښت وړ مقام درلود هر پښتو ژبی شاعر ورته په درنه سترګه کتل او د شاعرانو په زړونو کی هم ځای نیولی و .

د پښتو ژبې نامتو معاصر شاعر رحمت شاه سایل د خپلو اشعارو دوهمه مجموعه چې د لمبو په سوری ترنامه لاندې چاپ شوې د شمس القمر اندیښ ، اکرام الله ګران او خاطر اپریدی په نوم کړې ده او د خاطر اپریدی په هکله وایی :

« خاطر اپریدی د چا غزل چې لکه د لوی خیبر د عظمت په شان په ټول وطن خوږ دی په مینه او ښایست کې لړلی

غزل د لویو وړو نرو بنځو په خوله غزل .

ته به کوځې د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلیدلی ګریوان څه وکړم ،،۱۰،

همدارنګه د پښتو ژبې یو بل خورژبی شاعر عبدالروف زاهد د «مردان» د خوانی مرګ خاطر په مرثیه یو شعر ویلی اود هغه د غزل په باب وایی «خاطر اپریدی چاچې د غزل پالنه دزړه په وینو کړې ده» ،،۱۱،

د عبدالروف زاهد د شعر یو خوږ بیتونه په لاندې ډول دي :

ای د سحر قاصده لاړشه د مشرق په طرف
د سبا نې ختونکی نمر په مخ خادر واچوه
چې پلوشی یې خوږې نشی د تیارو په سیمه
ورته قسم د خوانی مرګ خاطر د سر واچوه

تورې تیارې نښه ده رڼا د خوشحالی زیږدی
موږ د نړۍ رونو په ماتم کې رڼا نه خوښوو
هره لمحه دی اوس تیرېږی د غمونو غیږ کې
اوږه د غمونو بنا ریه کې سبا نه خوښوو

توره وریځ دی شی خوره دشین اسمان په څهره
موږ دې دیدلی یو د ستورو رڼا نه خوښیږو
زموږ د غم په سمندر کې دې باد اونه لګي
موږ انتشار په خاموشۍ کې دچا نه خوښیږو

مصري خان خاطر کړه هم مړ دی او د ادب په دنیا کې دده ځای خالی دی خو بیا هم د شاعرانو لپاره د مرګ کلمه نه استعمالیږی ځکه چې هغوي مرګ نه لري بلکې پیړۍ په پیړۍ له خپلو خلکو سره په وراندې ځی او موږ د کلتور ویاړ ګڼو یو په برخه جوړوي نو ځکه خو موږ وایو چې د پښتو ادب په دنیا کې به د خاطر نوم د تل لپاره ژوندی وي او په دغه لنډه اوتنګه موده کې به دده دغه ادبی خدمت ته هر یو پښتون د قدر په سترګه ګوري او د غزل بولو شاعرانو په لړ کې به دده نوم په لومړۍ کتار کې راځی او د ځکه چې خاطر د پښتو غزل حق تر خپله وسه ادا کړی او که د غزل په دنیا کې په دې ویاړ سره یاد شی نو لږ تر لږه به د خاطر دا ادبی خدمت حق ادا شوی وي .

دیوې خبرې یادول ضروري ګڼم چې د دغه مجموعه کې موږ

خواړه واړه اشعار راټول کړی دی چې زیات یې نیم ګړی
دی موږ په نظر کې لرو چې د دوهم ځل لپاره د خاطر غزلو
مجموعه په مکمل ډول چاپ کړو نو د ګرانو لوستونکو نه هیله
کوو چې له موږ سره په دغه برخه کې مرسته وکړي او د خیبر
د دغه نه هیریدونکي او خوږ ژبي شاعر د نه هیرولو په خاطر
دهغه خوږ ې غزلې موږ ته د ابد لپاره خاطر ژوندۍ وساتي.

ای اشنا چې دې وطن له ته راځې ومې
خو خیبر خو دې لیدلی نه به مړیم

بریالی رباجوړی،

ماخذونه :

۱، پته خزانه ، محمد هوتک ، د پوهاند حبیبی په تحشیه او تعلیق ، کابل ، ۱۳۵٤ کال ، دولتی مطبعه ، ۵۷ مخ .

۲، بهیر ، حمزه شینواری ، ۱۹۸۳ کال ، جدون پریس ، ۷ مخ .

۳، خیبر ادب ، مراد شینواری ، ۱۹۵۸ کال ، پیښور ، ۲٦۸ مخ .

٤، د خیبر انګازی ، خیبر اپریدی ، ۱۹۸۲ کال ، جمرود ، ۳۰ مخ .

۵، همدا اثر ۳۱ مخ .

٦، خیبر ادب ۲٦۹ مخ .

۷، پښتو ، فن و فنکار نمبر ، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورسټی میاشتنی مجله ۱۹۷۹ کال ۳۸ مخ .

۸، همدا اثر ۱۷٤ مخ .

۹، د خیبر انګازې ۳۱ مخ .

۱۰، د لمبو په سوری ، رحمت شاه سایل ، حمدیه پریس پیښور ، کال ۱۹۸۵ ، لومړی مخ .

۱۱، پرخه ، عبدالروف زاهد ، مردان ، ۹۳ مخ .

نعت

کاشی بوتی دی دیار د محمد
مامنلی په دیدار د محمد

د دنیا واړه ګلونه به یې هیرشی
که چا ولید د ګلزار د محمد

د دنیا ژړا خندا دی پکی نه وی
زه وای شمع په مزار د محمد

دا خبری یی وصال ګنه خاطره
بی قرارشی په قرار د محمد

داستاد خولی می فیصله ماته شوه
حُکم د زړه می حوصله ماته شوه

شوندې دی هسی ړپیدلی نه وی
په زړه دی بله څه را تله ماته شوه

نور می ساقی څه جرم نه دی کړی
تشه د لاسه می پیاله ماته شوه

ته په عوض کی یی په هر څه غواړی
دا می په برخه وه سپیره ماته شوه

لاس دی بی واکه چی جامو نو ته حُئ
ما بنام خونه دی چی روڼه ماته شوه

خاطره پریږده د درو غو تو بی
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

چې اشاري کړې ایثار یزم ولی
چې پښیمان یې تیار یزم ولی

دریغه چې مړی دستم نه وای زه
چې نه مړکیزم ازار یزم ولی

په یوساعت کې می بیا بیا ژړوي
چې اوس ژړیزم قرار یزم ولی

نور به دی څه وکړی بانه په خاطر
ټول دی پرې کړمه دار یزم ولی

ACKU

دستا په غم کی خوشحالی پتی دی
په دې زندان کی آزادی پتی دی
خاندی چې جوړ می شول دزړه زخمونه
ایله په وینو یی خولگی پتی دی
دخورو زلفو لاندې گورې په چل
په دی ځنگل کی دی ځوسی پتی دی
په سر و سر وگورم تور و سترگوته دې
چې پکی څه بلا مستی پتی دی
ستاله سینگارنه می حوانی شه لوگی
دپری په خاورو کی حوانی پتی دی
په کوموسترگو به بیا بیا در حمه
په اشارو کی دی تگی پتی دی
زړه که ته حی نه لیونی خونه یم
دمخ سره زلفې ربی پتی دی
څه شو په خوله که دی رخصت راکړو
ستا په نظر کی تسلی پتی دی
که ستا په خیال کی می خاطر شوایرې
خو امید پکی سپیرغی پتی دی

عکس دستانر مادسترگو دنر نبارنه وخی
دنرپه دکوره دبیلتون دیوگذارنه وخی

ای شمع رویه راشه نور دغه خندونه مه کړه
چی پی مین دی هره شپه دانتظار نه وخی

داستاکوخی لهزه دسروخ خان په خیال نه وړځم
چی تاورا تاونه شی دبستنی سوم نه تار نه وخی

دستاد عشق په سمندر کی می ژوندون جوړدی
چی په ربښتیا خوسمندر وی دانگار نه وخی
شیبی داوښکود خاطر پسی ایله زیاتی شوی
بنکاری داستاخوانی اوبرده شوله بهار نه وخی

زما زړه اوسترګی ستا سره پوهیږي
نور به بد کړي چې په دی منځ کی ځایږي

چې می ووایی اشنا ولی خفه یی
زړه می ښه شی په ګوتل کی نه ځایږی

که دی غم په ما انبار شی پروانه شته
د ګلونو لاندی څانګه نه ماتیږي

که خیر نه راکوی خیر دی ښیری مه کړه
مین زړه می ستا دمینی نه صبریږی

خاطر څومره لوی هیبت ستا دا تلوکه
لکه پانه چې په ونو کی ریږي .

مینا د بنکلی مخ شمع چې مړه شوله
حوره په محفل کې توره شپه شوله

راشه لږه واوره د الفت قصه
بلبل ده نوره زړه کې هم زړه شوله

د پرې وعدې بنې وې لږې لنډې وې
وس دې هر یو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر ونه کړ لو
بنه شوه د پیره بنه شوه اشنا بنه شوله .

ته چی ر قیب ته اشاری کړی دا دمل ننبه ده
ته چی دا غلی غلی گوری دا دغل ننبه ده

کله یقین کړمه په دا چی مرور یی له ما
ماته معلومه ستا په سترگو کی دچل ننبه ده

تر چی تپوس له ما مدام کوی چی څه لټوی
زه چی دا لاس په سینه ږدم دا اول ننبه ده

خاطره تا چی بیګاه خوب کی هجران ولید لو
یقین می دا دی اخری ستا اجل ننبه ده .

څومره چې زړېږم په ځوانۍ پسې ژړېږم
خدای زده نه پوهیږم چې ساده شوم که پوهیږم

زما د استانه تګ دغسې کله چرته شوی
دومره خو پوهیږم چې قدم اخلم ویریږم

زه یمه خوشحاله ستا په غم کې خفه مه شې
خدای می پخلا مه کړه چې له تا مرورېږم

ځکه ما خاطر ته داوی چې ما هیر کړه
پریږده چې بې واړه په هر ځای کې د یادیږم

ACKU

ډیری خوشحالی ښی نه دي بیارانه هیرېزي
کله کله غم راکوه بیاچی می یاد یېزي

زه دی یملوګی پتېدی نه شی رانه شمعی
خدایږ ودرنا نه په تیارو کی ښه ښکاریزي

ماته داشنا دوعدی هریوځای اشنا دی
ای وزیه نظره ته په هیڅ هم نه مړیزی

چرته دی تیرشوي دخاطر نه څه په زړه کی
دومره بی پروایی چی په مخه کی تیریزي

ماویل نه به می زړه وچوی خودر دونه دی تیرین ي
پریږده څه کړی تپوسونه خو وختونه دی تیرین ي

جوړی تا اراده کړی د راتلونو ما په لوړي
نن می ستر گوته چی وړاندی مشالونه دی تیرین ي

جانانه زه یی زغملی شم که وی داستاد لاسه
هر څوک ستمونه طوفانونه وی تیرین ي

ستا د حسن په بهار کی یاره نوری رنگینی شته
د دهر په خاطر باندی غمونه دی تیرین ي

زما دامید ونو ورځی شپی وغزیدې
هر څوستاد منزل که مرحلی وغزیدې

اوس چرته پسی لاړ شم لیونی دی زما یار
هرځای کی ستاد زلفو زولنی وغزیدې

نمرمخیه اوس دی نسی لاړی ماتی کړی گرنگی
نظر که ستاد مخ می پلوسی وغزیدی

چاهسی داسی ووی چی خاطر کړو یار پسولا
په دی در قیبانو جنازی وغزیدې

ښه شوله ډیره چې انکار دې وکړو
زما دواړه عمر کار دې وکړو

د زړه زخمونه مې بیا هله شمار
کړې دې د خپلې خندا شمار دې وکړو

خلک چې نه ښه ولې ګوري وراته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

زه لاڅه نه وایم چې داغ دې په زړه
ته راته وایې چې دیدار دې وکړو

خاطره زه له تا نه چا وړې یمه
وار به دې راشې که لږ واړې وکړو

څه وشوچی سترګی می په تا باندی خوږی شوې
بل چاته پورته نه شوې چی دستا په لور کږی شوی

ګوره دا ګریوان می وحشت څنګه تار په تار کړلو
نه شلیږی داستا د زلفو څه رنګی حلقی شوی

ما خو به ویل چی داستا خوله ډیره اسانه ده
ګرانه شوله څکه دومره خولی چی را پسی شوې

اوس هم ستا د مینی افسانه زما په شوند وده
نوری افسانی مې په زړګوتی کی ورستی شوې

سترګی دخاطر که ستا په سترګو تیروتلی دی
چاته که وی بدې خو زما په هکله ښی شوې

داستا په سترګو کې به څه پاتې شي
رقیبه یار که می په خوله پاتې شي

ستړی مزدور سحر وختي پاڅیږي
دشوګیر و مین اوده پاتې شي

یو ځلی نیغ په دی لار تیر شه اشنا
چې دی کابړه وا بړه کاته پاتې شي

افسوس داستا په خیال کې څه بنکارمه
دغه ارمان به می په زړه پاتې شي

اوستا په دیر دیار تراخه خاطره،
چې په کتاب کې دی خوا بړه پاتې شي .

راشه په کوڅو کی د جرګو خبری نه شی
چرته چی په موبز کی د پردو خبری نه شی

د پیرو شپولہ راشه چی د یوبل نه خبر شو
یاره په یوه شپه د تولو شپو خبری نه شی

وایمه د ځان سره چی دا به ورته وایمه
داچی شی اشنا په اسویلو خبری نه شی

ما او تا چی وو ینی د وایه سره پوه شی
چاوی چی په ستر ګو کی د زړه خبری نه شی

خدای خبر خاطره زه بیا چرته ته بیا چرته
پریږده اوس په تلو کی د راتلو خبری نه شی

ستا د مخ په تصور کې تماشې کړم
باغ د مینې دی د خیال په کې غنچې کړم

ستا د مخ کتاب د زړه په سترګو ګورم
په ځان تیری بنې اوبدی راخوری کړم

پټ په زړه کې به ساتمه ستا د حسن
زه به اور د خپلې لاسنه ورپسې کړم

زه خاطر خو یاره ستا ګلي رخسار یم
بې له تا به په خیبر کې څنګه شپې کړم

ACKU

چې اشنایی ستمګر شی نو به څه که
چې زما خمی څوک په ځیګر شی نو به څه که

چې یې تول عمر تیر کړی په پالنګ وي
څه چې ځمکه یې بستر شی نو به څه که

چې په عمر کې یې غم لیدلی نه وي
چې د غم سره یې سر شی نو به څه که

زه خاطر خو همیشه دغسی وایم
چې اشنایی مرور شی نو به څه که

چې پښيمان نه شې په بيا کې څه دي
پريږده داوګوره په دا کې څه دي

شمعې دانن شپې نه سبا جوړه وه
سبا به مړه وې په سبا کې څه دي

زړه مې يې ستړې په توپو کړلو
ګله داستا په دې ګدا کې څه دي

زما په اوښکو کې خندا ده داستا
يا ره داستا په دې خندا کې څه دي

ACKU

ما په مثال لکه پتنګ وګنه
ته دی د شمعی غوندی رنګ وګنه

لکه چی څومره ستا غمونه ډیردي
ما تدیی تول په زړه ګی نرنګ وګنه

څمکه بستروی لیونو ته مدام
زړه ګیه تدیی په پالنګ وګنه

که می نصیب شولو کوثر دیدن
بیا می شهید د عشق په ننګ وګنه

خاطر کچکول د ګدا واخیستلو
اشنا دیدن په ځان قلنګ وګنه

په ارمان د نادانی شی چی هوښیار شی
خوشحالی او خوب یی ورک شی غم یی کار شی

تخت و تاج د بادشاهی یی په کار نه وي
په ارمان دروغ صورت شی چی بیمار شی

په توبه باندی پیر بد بنکاری چی زوړ وي
بنکاری ښه چی په ځوانی کی توبه گار شی

لیونی په کاهولگی ورته خاندي
د هوښیارو زنکدن په یوگذار شی

خپله غمه دیار غم می لږ میلمه دی
تا به وکړه وار وکړه کله لږ وار شی

ته دی خپلی مترگی وگوره چی څه کړ
د خاطر زړگی به څه رنگی قرار شی

وړاندې به مې داویل چې کاته به شی
اوس چې په ژوندپوه شوم- وایم څه به شی

وایم ستا بهنوته د نه خمی زړه نه
بس دی که وې داسی نو سا ه به شی

ستا د حسن شمع او د اشوق زما
نه یې پریږدی دوا ه سره مړه به شی

نه وم د داسی جدایی نه خبر
ماویل په ساعت کی تله راتله به شی

نن وکړه تپوس چې راځه څه غواړې
ماویل چې که راشی نو خوابنډه به شی

هر وخت چې ژړا کړې نو خندا به شی
زړه خو د خاطر اوبه اوبه به شی

داستا ظلمونه دزغملونه دي
زه یی منم خود منلونه دي

مینه می زړه غواړي خو را شه لږه
دا شپی دځان له تیرولو نه دي

تاچی ویلی وپه خپله وعده
دغه وعدی د مانولو نه دی

د بی صبرئ اوښکی می راغلی پرمخ
وایی خاطر د وچولو نه دي

څومره ډیرمی په زړګی باندی چی غم دی
اشنا سود ور باندی نه شی وایی کم دی

هغه خاوره می دا رودہ که چا راوړه
په کوم ځای باندی چی ایښنی یی قدم دی

زه خو ځکه داسی شومه چی خندل یی
خلقه ما او په جانان کی کوم یو کرم دی

حکیما نوله مه در ومه خاطره
دیار شوندی دی پرهر لره مرهم دی

اوښکی نه کمیږی چی راماتی شوی
تاچی خندا وکړه نو رازیاتی شوی

څوځله داوښکو سره دی غلم
داځنګه جوګی اوننواتی شوی

څوبه ګوری ستاسترګی زماسترګی
لړی دی وی خیږدی خوکه پاتی شوی

تاچی دخاطر سره څه کړی دی
خیږدی اشنادایی دی ته پاتی شوی

ACKU

لاخود یار کور ته سفر پاتی دی
چی لږ نظر مود بصر پاتی دی

زه او رخصت له تا په کومو ستر گو
لامی دتن د پاسه سر پاتی دی

زاردی د مینی د لمبو ځنی زړه
لامی په مینه کی ځیگر پاتی دی

د انتظار د یوی چی تته نه شی
اوس خو شپه تیره شوه سحر پاتی دی

ما خو داستا په سر وطن گمنلو
خبر شه اوس را نه خیبر پاتی دی

ته به په زړه کی ماله څه راکوې
که راکوې ماله به زړه راکوې

څه لوی اختر دې دځوانۍ تیرشو
ته به لاسونه ماله ښنه راکوې

منی به نه شم ستاله ډډ ځنی
په دې دی نه یم چې څه نه راکوې

داخوشحالی به ماله څوک راکوی
چې ټول غمونه رالره ته راکوې

ضد دخاطره سره مه کوه
که یو آواز رالره په خوله راکوې

د هجران په شپه د یوه په لاس کی راغله
خدای خبر چی چیرته تله په لاس کی راغله

رقیبان خو دې اوس ټول راله راتیر شی
چی یار راغی نو وسله په لاس کی راغله

چی می صبر امید دواړه پسی خور کړل
چی له ځانه خبریده په لاس کی راغله

چی دستر گود سر و شوند و او د زلفو
تصور یوه څیره په لاس کی راغله

چی په تلو کی شوه موسکئ نو بیا راشی
ای خاطره بس راځه په لاس کی راغله

نور پەرزەمی نەخایین ی چی خەوایم
رانە بیامرورین ی چی خەوایم

کەخەنەوایم هەمراپوری لگی
پەدی هەمراتەقارین ی چی خەوایم

دەرچاپەلوری خمەداسی وختدی
بیامی وخت کلەتیرین ی چی خەوایم

پیرەبنەپوهین مەخاطرە
خوبس ستەرگی می شرمین ی چی خەوایم

زه لکه د موم د ستا دیدار ته اوبه کیږم
پریده چې اوبه شم ستا رخسار ته اوبه کیږم

چرته شې خوبونه شپې پرې ستوري محفل جوړ کړې
همدا مشغولا شې ستا سینګار ته اوبه کیږم

زه پرې بنه پوهیږم ستا لیدل زما اجل دی
بیا می هم وار نه شې ستا یو وار ته اوبه کیږم

اوس خاطره ولې خدای په زړه کړم دومره سخت
بیا به پس له مرګه ستا مزار ته اوبه کیږم

زړه می چې اشنا ستا د سر تلونه پاتې کیږی
خود به راته غم د خوشالونه کیږی

دا سپین دیوالونه به سبا وی ټول ګواه
دغه توره لوګی چې د ډیوونه پاتې کیږی

ای د بیلتون باده چې په ستر ګو می رانشی
ستر ګی می د یار له تماشونه پاتې کیږی

زړه لامی مرهم اوسی او ستر ګوله کجل
خاوري یې خاطره چې د خپونه پاتې کیږی

ACKU

شکر دی چی نه ستا دبنیري شومه
اوس دي چی اې یاره دکوشی شومه

زه به په ځان څه وکړم چی راشی ته
واړه دي په طمع کی ذرې شومه

دومره در نزدی یم چی څولرې یم
لرې به شم نور که در نزدې شومه

نن خودی خاطره چی سبا نه وای
پوه دي زه د فکر په وعدې شومه

کله چې په فکر کې دستا شمه
لاړ شمه دځانه خوبیا راشمه

نورې دې دمینې لارې سمې کړه
خدای خبر چې کومه پلاخطا شمه

عشقه داسې ځای لره دې راوستم
اوس به نه دستانه د دنیا شمه

د پرغریب نیولې راکتلې دي
لږه به خاطر ته په خندا شمه

ACKU

زړه په دا نه دی چی ناولی مخ دی
چی کوم یی خوښ شی هغه ښکلی مخ دی

مخونه ډیر دي خو دا مخ می خوښ دی
والله په ټولو کی وتلی مخ دی

پریږده چی اوښکی می بهیږی په مخ
دا بی ګناه جانان رتلی مخ دی

څه وشو تاکه دیدن بند کړو په ما
خاطر په زړه کی ستا ساتلی مخ دی

ACKU

لږ د نقاب لرې کول زده کړه
زما په لورې سمکتل زده کړه

ای زړه چې سمدا واړې ونه چوې
لکه تناکه تړکیدل زده کړه

په جار خندا به رقیبان پوهه کړې
پټ په لمبو کې مسیدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصیحت مه کوه
ناصحه مانه پوهیدل زده کړه

ACKU

چم په چم طلب کړم صنم
لوند می گریوان شاخی می نم

مینه وفا دی نه شته
په چا پروا دی نه شته
یره دچا دی نه شته

کوه ستم
رنگ می تک تور صنمه
سوی په اور صنمه
کومه شور صنمه

اوکړه کرم
مینه بهار دی دستا
چمن گلزار دی دستا
خاطر مالیار دی دستا

دگل په چم

خوښه دې شوه دله زما داشنا مینه
های زړګیه غمګینه

ای زړه ذړی شه خاوری ایرې شه
ځی مې له ستر ګو ستر ګو د زړګی وینه
های زړګیه غمګینه

راشه که وینې د زړګی وینه
دیار په غم کې چې د وی راځینه
های زړګیه غمګینه

خاطره داشپی تا نه جدا شپی
جوړه د وصال شپی دیار ځې دې وینه
های زړګیه غمګینه

تیر به دا ستا د حسن وار شی یاره زما
آخر خزان به دې بهار شی یاره زما

چې نه راد ر ومې اشنا نو وعدې څله کوې
هغه پرون دې څه وې چې نن لا بله کوې

ستر ګې می بې لتانه دبل په لور نه ګورې
بغیر د ستا د مخه مخونه نور نه ګورې

مرې به کله په دیدار شی یاره زما
آخر خزان به دې بهار شی یاره زما

زه د بل چا د مینې اشنا څه طمعه نه کړم
زه به دا ستا مینه چا سره سمه نه کړم

په ما خاطر دې کړ اعتبار شی یاره زما
آخر خزان به دې بهار شی یاره زما

ستاچی خوږی زلفی کوڅې راتاوشی
زمادنې ږه ځنی رسې راتاوشی

په خړه پړه لوپټه کی تاوشه
لکه ویرانه برېښوکې راتاوشی

نه به می بیاکړی لیونی دغرونو
نه به داستاستړګی هوسې راتاوشی

په زړېودئ خوبه وانه وړم لږتا
نه به خاطر ستادځوانې راتاوشی

چی زړه می ستا په تور دی په بل تور می پیرزو نه دی
نظر چی ستا په لور کړم په بل لور می پیرزو نه دی
ای هجره چی می وران نه کړی د زړه خونه ویرانه
ارمان په کی د یار دی په بل کور می پیرزو نه دی
دا نه چی هر بنایسته باندی شیدا دی زما زړه
داستا په مخ دی سوزی خو په اور می پیرزو نه دی
چی ستا د محفل خُنی یی نه شی څه گذران
در در ومی به خاطر په پیغور می پیرزو نه دی

دوخت دگذاروني مي دا غونه نه جوړيزي
زما سره سپرليه ستا گونه نه جوړيزي

تا سلته په قدم کې زه تانه وم ولاړ ه
زما اوستا په منځ کې پيغورونه نه جوړيزي

زه خوبي اشنا لاد پخوا ليونی وم
د عمر ليونتوب خو ځيرونه نه جوړيزي

راغې شه ديار غمه د دنيا د غم سره
برکور مي دی د زړه پکې برجونه نه جوړيزي

بوطل يې چې وران کړي ستا تصوير راله اشنا
د عمر هغې زماهغه فکرونه نه جوړيزي

داستاد حسن تماشی واخیستم
لکه لوګی په سر لمبی واخیستم

سبا می بیا په زولنو ګـــوره
نن یې جوړ فکر د کوڅی واخیستم

سم دی دمخ په سبا پوه نه شرمه
که دی د زلفو توری شپی واخیستم

بس یادوم دی نور می مه تنګوه
چرته می هیر نه شی غُصی واخیستم

خاطره ته او دا دنیا دې پوه شه
زه بس د عشق یوی قصی واخیستم

شوق می ستاد پیرو پیغورونو مړه لاړ
زور می شواوبه د ستمونو سره لاړ

چرته به زما لیونی زړه پری مشغولیږي
ستا د تورو زلفو ځنځیرونو سره لاړ

ستړګی می نیولی ستا د مینی په کاروان کی
لاړلو نظر می د ګردونو سره لاړ

چرته داسی یار شته لکه زه په انتظار یم
ستوری د سبا هم د فکرونو سره لاړ

څوبه دی مهارد عشق نیولی وی خاطره
ژوند د رحمت هسی د وختونو سره لاړ

ستا منزل منزلونو کی یم
رسید وامیدونو کی یم
دا ستا رخسار به می هیر نه شی اشنا
دې سودا دې فکرونو کی یم
نه می دنیا نه می عقبا لګیږي
که بهار سر وګلونو کی یم
زما په زړه کی خو هم ته یی اشنا
زه خاطر دچا زړونو کی یم

توری سترگی دې اشارې که
سرې شوندې لمبی کـــه
زړګیه راته وایه چی کوم طرف ته لاړ شم

کله باڼه راته ازغی کـه
پیخی دګلو اننګی کـــه
چی موسکئ شی سترګی مړې کـه
زړګیه راته وایه چی کوم طرف ته لاړ شم

بیا چی ارمان در سره نه وي
کوه چی څه دی په زړه وي
چی دې ټول خلق تماشی که
زړګیه راته وایه چی کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په توره شپوکی
وی د اخاطر دی په تیاروکی
اوښکی دې خیل ځان ته ډیوې کـه
زړګیه راته وایه چی کوم طرف ته لاړ شم

ته چی په مرګ زما رضایی
ماته قبوله دلربایی

ستا رضا ده چی داسی ژړیږم
په عالموکی داسی ګرځیږم
په محبت می نارضایی
ماته قبوله دلربایی

عاشقی پیدا ده جوړه داوړه
لږ زما سوی زړه ته ګوره
جوړ په معنی قیمت بهایی
ماته قبوله دلربایی

خاطره ګوره چی داسی حیران یم
محبت کی جوړ ستا بندیوان یم
څه ګبر جنه بی سرپایی
ماته قبوله دلربایی

باد شومه د عشق د گرځنگونو په سرونو
پریوتم د لری وطنونو په سرونو

مات په ما نظر کړه چې سپیرستر گی حق حیران شی
دود می کړه د خپلو محلونو په سرونو

ستر گی به زما شی آخر غرقی په ژړا کی
گرځی چې کشتی د گرداب ونو په سرونو

د ریغه چې د استاد انگو خوله هم زه وای
پرخی ته چې گورم د گلونو په سرونو

ځان به خاوری نه کړم غم دیار دی که څو پیرشی
خاوری دی پرتی وی د تختونو په سرونو

بنکلی به سر تیټ کړی یاره ستا په تصور کی
پیر خاطره ستا د غزلونو په سرونو

ستا دسپینه مخه زار زما زړه گی شه
هم دا ستانه سپیلنی او هم لوگی شه

ستا په ژبه باندې هره ژبه خوندکړی
ای اشنا لا پیښوړی یا اپریدی شه

اوس دگل خُنی ته لری شه رقیبه
یا په خپله باندی گل شه یا ازغی شه

زه اوته دچا خندا خوشحالی څه کړو
زه به اوښکی د باران ته پسرلی شه

زه خاطر دی نور خاطر کولی نه شم
ای رقیبه که پوهیږی نو سړی شه

زړه می که هر څه رانه هر څه غواړي
هیڅ نه دی خبر چې هر څه زړه غواړي

تل وی بی پروا دگر نگونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسیده غواړي

ای ماشومه زړه : ته را ته څه وایی
هغه رانه غواړي چې مانه غواړي

هر سړی داسته د دیدن وړ نه دی
داخو هم زړه غواړي هم لیمه غواړي

ACKU

یم ترزلفو پریشان په توره شپه کی
راشه ای ماه تابان په توره شپه کی

دتکرو بی پروایم ستا په عشق کی
لکه بحریم روان په توره شپه کی

په خندا می ستا قسم دی شمع رویه
خوبه کړمه داګویان په توره شپه کی

زه خاطرچی ستا د زلفونه پارنه کړم
مالیدلی دی ماران په توره شپه کی

په دی دنیا کی هسی شپی تیروم
لکه میلمه یوخو غرمی تیروم

په مازهیرمه شی خومخ بنکاره کړه
په زړه داستادمخ لمبی تیروم

خوشحالی ته کوه چی غم نه لري
زه لیونی یم چی تنگسی تیروم

دازه خاطر ستادخاطر دپاره
په خپل خاطر دغم جوړی تیروم

نور به څه یوسی زما په تور وستر گو
زړه دی وړی لا یخوا په تور وستر گو

که پروا کړمه خو زه به دې پروا کړم
نور دی څه کوې پروا د تور وستر گو

پیرې ستر گی می دستر گو په هر لور شوې
کړم دی داسی وار خطا په تور وستر گو

کړې می ستر گی ستا د ستر گو قدر دومره
ور به یې نکړم د دنیا په تور وستر گو

زه یې خاطر یې د کجلو سلایی وایی
بنکلولی دی اشنا په تور وستر گو

لوی دریاب دمینی نه شی په واړه زړه
شومه یاره ستا غوندی په نه زړه

چې په خوله کوی یوه او په زړه بله
دهغه سړه به مینه کړی په څه زړه

بیګاه ستا په انتظار کی شمعه رویی
دهر ستوری سړه پورته می خاته زړه

سوی رنګ ته می نه ګورې دلبره
ما نیولی ستا دحسن په لمبه زړه

بیایی خوب واړه تو پونه اوهیبت شی
دهجران چغې چې وشی په اوده زړه

یوغم نه دی چې یی وکاندی خاطره
دیر غمونه دی کوه یی په ساړه زړه

اوس رانه هیڅ نشی خطاده دهر څه هر څه اووتمه
ګرانه اشنا دا می سزا ده چې ستا په طمع ګرزیدمه
غږ په غږ نه ورځی صنمه چې وی ژوندون اخر به راشی
درته په زړه کی به ساتمه پریږده چې مور ښه په جفا شی

دښکلو مینه بی وفاده
زه به یی څه درته ستایمه

تل به په هرچا داسی کیږی په داسی خلکو چې اعتبار کړه
دخپلو ځانه چې نه خبریږی دګرنګونو به یی ګذار کړه

هیره زما تولو دنیا ده
شام وسحر دې یادومه

زه درنه څنګه هیریدمه خپلو وعدو نه وشرمیږه
تاچې خندل زه ژړیدمه دهغو شپونه وشرمیږه

زما په ستر ګو کی حیا ده
زه یی په څه درواړومه

خاطر خومه وای درکتلی اوس یې ژوندون اخیستی اوردی
مغه چې تاورته خندلی زه یی دهری خندا توره دی

زما د زړه خوښه ژړا ده
اوس یی زه نه قرارومه

لکه کلئ چې په اغزو کې وینم
داسې هې زړه ستا په بنو کې وینم

رخسار دې وینم تورو زلفو کې ستا
لکه رنا چې په تیارو کې وینم

گلفامه څومره لرې اوسې له ما
زه دې د نم په پلوشو کې وینم

داستالیدل تیر شوی خوب و واشنا
اوس به دا خوب په کوموشپو کې وینم

اې د سبا سترګې راخیژه په ورو
تله د اشنا دې په ختو کې وینم

زما خاطر خاطر دې اوږې اوسوو
اوس یې لوګې په اسویلو کې وینم

لکه کلئ دمسید و ډکه شه
باښه رانیغ کړه د ازغو ډکه شه

چې ستا خورو زلفونه نیغه نه شوه
زما څنګل د زولنو ډکه شه

که یې هر څو راسره ضد نیولی
خو زما مینې د پښتو ډکه شه

چې مې ژوندون له رنګینو ډک شی
بیا په غصه شه د نشو ډکه شه

چې تا می هم ګریوان ته څیری وویې
هم ستا کوڅه یې د تو تو ډکه شه

بنه دی زړه تش کړه چې بیا بیا نه وایی
فضا زما د اسویلو ډکه شه

بدخواه چې لاس په تندی کیږدی د رته
د خیبر څانګی د اغزو ډکه شه
پښیمانی د زړه نه وباسه ننه
یریږه مه د اشارو ډکه شه
خاطره یاردې په خیبر کې اوسی
تولې درې له سپیلنو ډکه شه

زه دنیا څه کړم چې نمر مخ په یاره تاووینم
څنګه دنیا ووینم څنګه دنیا ووینم

دستا په مینه کې د خلکو خندنې خوښ یم
خو د خپل عقل نه وزګار لیونې خوښ یم

راسره غم د لیونو شي چې صحرا ووینم

ستا د کاکل په تور و شپو پورې لاشې څه دي
ستا د مرو شونډو او ننګو پورې غنچې څه دي

وې تماشې می د ژړا چې دې خندا ووینم

ګل چې ما خاطر ته یادشي نو ل جهان ګلشي
د دیره هجره می هر یو ګل و چشمان ګلشي

خدای خبر یا چې زه به ستوري دسبا ووینم

اوس به ټول بوټی سره ځان وښایی څوک به کلی څوک به ګلان اوښایی
لالا به هم څیری ګریوان اوښایی هم به بلبل شور وفغان وښایی
اوس به ښا خونه په رنګونو ډک شی
راغلو پسرلی وار دخزان تیر شو

جونه به ولونه د اوربل جوړوي پکی ځایونه به د ګل جوړوي
سرو سروغونچوته به منګل جوړوي په ائینو کی به کاکل جوړوي
څوکه جهان د دید نونو ډک شی
راغلو پسرلی وار دخزان تیر شو

بنکلی ځلمی به په شملو کیږدی ګل اوس خو به جونه په کمه څوکیږدی ګل
دیر ارمانونه به په زړه وکیږدی ګل څوک به د زړه په پرهر وکیږدی ګل
داسی به زړونه په داغونو ډک شی
راغلو پسرلی وار دخزان تیر شو

دا ارمانونه لوی جهان رژوي زړه په ګوګل کی می جانان رژوي
دمینی ګل را نه هجران رژوي نه کړی خاطر د غه بوستان رژوي
دمخ کتاب دې د راز ونو ډک شی
راغلو سپرلی وار دخزان تیر شو

څکه می نن په سوزید و تیر کړ
چې می پرون په موسید و تیر کړ

زما خوښتا منزل مقصد دی اشنا
زړه می له تولو مرحلو تیر کړ

دلسوزي مه ګڼه تپوس همدمه
زړګی می عمر په لمبو تیر کړ

زما دا تیر شوبندون زما خونه و
تولی می داستا په تلو را تلو تیر کړ

پار بیا دچادتورو زلفونه کړم
یوځلی مرګ راباندی دو تیر کړ

لکه دشمعی بیګاستا په طمع
تول انتظار می په سلګو تیر کړ

زه چې سپرلی ته ورځبر نه یمه
ما د دیدن په رنګینو تیر کړ

ژوندی د عشق لوړی ژوری څه دي
سر می له واړو ګرځنګو تیر کړ

اشنا دا ستا د بنکلی مخ په خاطر
ما دا خپل زړه له سره لمبو تیر کړ

ته به گرځی هسی بنکلی زه به مړیم
چې می اوس وای لږ لیدلی زه به مړیم

جنازه چې می دکوړه گور ته یوسی
ته به نه یی راوتلی زه به مړیم

خړې خاوری به په ما باندی انبار کړې
هر سړی به درومی غلی زه به مړیم

زه به مړشمه قراری مرگه ورک شه
سره خاندی به ټول کلی زه به مړیم

رب دپاره یوځل راشه په خدا شه
چې مزار می شی مخلی زه به مړیم

چې په قبر می تیرېږی خدای دپاره
لږ شه ماته پښه نیولی زه به مړیم

ای اشنا چې دی وطن له ته رادرومی
خړ خیبر خودی لیدلی زه به مړیم

دکاکل په خطا بند دمخ کتاب که
ما خاطر په تا سپارلی زه به مړیم

اشنامی نن لید و تیری وعدی رایادیدې
دا وصل که هجران و ؟ چی گیلی رایادیدې

بس وه می ستا منزل ، په زړه کی نور څه واشنا
دا نه چی ماته نوری مرحلی رایادیدې

منم چی فراقجن به نور سبا رایادیدې
له ما چی اشنا لاړو ماته شپی رایادیدې

که هیر شوی ، نو یادله چی هیردی نه شی منه
پخوا می لا په زړه اوسیدی رایادیدې

وم د وړه لیونی ستا د پریشانو زلفو نړه
چی چیرته خوبه خاوری بادیدی رایادیدې

زما د زړګی یاد شود مخکینی نظر سره
په هیڅ نه هیریدلی همداسی رایادیدې

دا نه چی آهو چشمه اوس یی غټه ستایم زه
دا ستا خماری سترګی لاوړی رایادیدې

بیګاه چی شمع رویه هر څه هیرودخاطر
دا ستاد محفل بنکلی تماشی رایادیدې

خبر نه وم دې ثواب اودې عذاب ته
خو تصویر وم ستا په ورځو کې محراب ته

ما ویل تل به خوشحالی وی ستا په عشق کې
اوس می نه پریږدی غمونه اشنا خواب ته

ستا د سر وشوند وارمان خو هله راشی
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

یو ذره یې لرې نه کړلود مخ نه
فکر یوه م د اشنا په مخ نقاب ته

وایی زړه به هم زما د اسې تک تور وي
چې خاطر وکړم نظر سوی کباب ته

و وایه ټول ستانه قربان څه وکړم
د دی د پاسه نور په ځان څه وکړم

ته خو به کوشې د زلفو جوړې کړې
نه په دې شلید لی ګریوان څه وکړم

ته خو چاله نه ورځې خو زه راغلم
ستا په در کی نوی مهمان څه وکړم

ستا په طمع ځان له پاتی شوی یم
ټول خو رانه لاړل یاران څه وکړم

اوس خو زه خاطر په څه پوهیږم
تا چې کړمه داسی حیران څه وکړم

چې ښکلی دی وخندیدی شونډې
خود به دستر ګو خوښیدی شونډې

دا ته چې لاړې شوند وهیڅ ونه وې
بس که په تا به یادیدی شونډې

ستر ګوله زه که قسمونه ورکړم
زړ ګیه ته کله پریږدی شونډې

شول جوابونه دخاطر نه خطا
په کشمکش کې ړپیدی شونډې

ACKU

جگرمی شوکباب په لیمواور ولگیدو
په مادی یکتنها که په هر لور ولگیدو

جگرمی تش گوگل دی راشه وکړه تماشه
دسوو فریاد ونو تنگ تکور ولگیدو
لری به شمر نور خود وصال په طمع ناست
دستا دگونگروگانو په ماشور ولگیدو

اشنا وی دا لوگی دی دخاطر داسویلو
رقیب ویل مازدیگر شوچی تنور ولگیدو

پوه شومه په دې چې په کنځل ښکاري
وخانده یوځل چې په خندل کې څنګه ښکاري

ستا د تصور په یوه سرنګر کې اوسیږمه
ته خو راته وایه په محل کې څنګه ښکاري

څومره به په باغ کې په غلتو وې خپل ځان نه
کله د اشنا په سره منګل کې څنګه ښکاري

به په ائین کې ځان لیدلی په څو رنګه وې
شه د خاطر په هر غزل کې څنګه ښکاري

داسی بله شپه به نصیب سره راځی
په عمر کې راځی خو د ساقیب سره راځی

څوچې په تندی یې د ازل لیکی وینم
دومره زحمتونه د غریب سره راځی

خندیږی اوګډیږي سره ګلونه د سبا
نغمې چې د بهار د عندلیب سره راځی

نو خلق رغیږی په دارو درملیانو
خامار ته مرضونه عندلیب سره راځی

زړګیه تاویل چی در دونه څه دي
په دی ګوګل کی می ترڅونه څه دي

که ستا منزل زمانه نور لری شی
ګود و رپدونه تیند کونه څه دي

که مرور شی پتیدی خونه شی
ماته په غلا غلا دید نونه څه دي

زړه په بنو می ورله څوک یی وینی
وهه وهه دا ستر ګګونه څه دي

دا څوی چاړې د څندانو ستر ګو
دی په څاطر دا پرهرونه څه دي

خوږ خویږ دمینې په تر خوکې انتظار دی
ښکلی تماشه په تماشوکې انتظار دی

کله به داستاد حسن شمع راته بله شی
گران راته د زلفو په تیارو کې انتظار دی

ما ویل که نن نه وی سبا له به دی خوښه شی
دپیمی د رته کړی په اسرو کې انتظار دی

لاړی دامید د زړګی شنی پانی می وچی شوې
بیا د رته سپرلیه په راتلو کې انتظار دی

تاچی د وفا پلو په ما باندی ونه نیوه
ما ته څه د هجر په غرمو کې انتظار دی

ښه د ه چی خاطر دی د ومره مخ ته لاکتلی وو
ښکلیه ستا د د بدن په سر و لمبو کې انتظار دی

ستا په الفت کی به هوښیار نه شم
څوچی د عقل نه وزګار نه شم

سور می د عشق په لیونتوب نه شی
څوچی رسوا ذی په بار بار نه شم

کړ د منصور غوندی په دار شمه زه
ستا د صفت به توبه کار نه شم

خاطره داسی ګذار عشق راکړو
چی بل ګذار یه به بیدار نه شم

یادشرابونه ننشی وباسه
یاخوتوبی زما دخولی اوباسه

دالنډه تنګه دنیاګئ ده ربه
زړه می دژوند داورځی شپی وباسه

یامی دزړه دردونه مه لټوه
یادی صحرا ته قافلی وباسه

داشنا یاره نور می مه تنګوه
ددغه سرای نه قافلی وباسه

اوردخاطردزړه په خونډبل کړه
ستړګی زماستړګونه مړی وباسه

که دی دا زلفی په لاس راغلی اشنا بیا به شه کړي
که زه عادت د دی بلا سره شوم بیا به شه کړي

د رته کتی نه شم حیران یم د اشنا سینګاره
تا می چې داسی په اشنا وکړل په ما به شه کړي

څوبه بنیري او دا رتنه تل په ما کوي ته
چې پیرزونه ده دعا هغه اشنا به شه کړي

چې شه یې کړل هغه یې قول وکړل په تا خاطره
وایه چې تاله په لاس راشي په اشنا به شه کړي

خوارزه تراخه شود خوږ وهسی نامه پاتی ده
دبدوشپی دي اودښوهسی نامه پاتی ده

ته رانه هیرې خدایه هرڅه په دولت کومه
د دعاګانو د ښیرو هسی نامه پاتی ده

په ستر ګو ژاړه او په زړه کې سره خاند واشنا
مه کړه ګیلی د ژړید وهسی نامه پاتی ده

په ډیره مینه کې چې زه او ته پرې نه پوهیدو
د هغو ورځو اود شپو هسی نامه پاتی ده

چې په پلوکی بډې په زړونو باندې اور لګاو
د ستاد هغو اتګو هسی نامه پاتی ده

ما به وایی چې د خدای په خاطر راشه لږه
په ما خاطر کې د ژوند وهسی نامه پاتی ده

قسمته داسی دی ویده کړم چی بیدار نه شوم
به غیرله تاستاد غمونونه وزګار نه شوم

په دی دنیاکی به غیرستاله ژوندونه څه ژوندون دی
لوین م غورزیږم خویوځل پکی خمار نه شوم

ستاپه الفت کی هغه خوب چی می لیدلی اشنا
درقیبانودجرګوځنی و یزار نه شوم

ته چی راګوری په هغه وخت زه په طمع ومه
یوځلی موړ داستادخولی په ښه ګفتار نه شوم

هغه وعده چی ستا په سترګو کی وه ماته کړې
دا زه خاطردی دوعدی په انتظار شوم

خود به ژړیږ مه په سر و ستر ګو
تیرو تمه ستا په لیونو ستر ګو

مه تور وه تو ری بلا ستر ګی دي
پام چې راته نه شی د پیرو ستر ګو

عمر له یی کار وی د ژړا سره
وچې ګوری چاته په مخمو ستر ګو

بس که د خاطر سره پخلا شه ته
خلک د پیر عزت کړی د زړو ستر ګو

ACKU

واخلمه تا اوکه دنیا واخلم
په خندا څه رنګه ژړا واخلم

لږی دې پور ته کړه دمخ نه زلفی
لږه سودا چې په ربنا واخلم

ته چې په ستر ګو کې موسکی شوی ګلی
زه دی ددی مینې بلا واخلم

مرګ او بیلتون دواړه جوړه راغلی
خاطره دا واخلم که دا واخلم

ته ما ستایلی یوپه سله نه یی
داته زما په وینا څله نه یی

څوکه دا ځان ورته ذری ذری کړی
خپله کوی ته دچا خپله نه یی

ته دا چرته یی چی نه یی نه یی
هر وختی ما سره ته څله نه یی

خاطر به هم په تا اعتبار کوی لا
ته خو هم هغه بی څه بله نه یی

ACKU

بیګاه سبتا په انتظار می هسی تیره تولہ شپه کړه
خندل راپوری ستور و، سپوږمئ راته ګیله کړه

ورته سر په زنګانه وم د وصال تکی ته غلی
ما به کله کله ښه کړه چی بیلتون راته قصه کړه

شوم په منډه نظر ستړی چی هر ستوری به جلب کړه
چی د استا په لور به تللو هغه ستوری به مزه کړه

ور سره به یې زړه وچوی که شپه وچوی د خاطر نه
په ژړا ژړا ویده شوم چی وعده می ستا پوره کړه

رنگ ته می گورم سوی سکور نه یم
طاقت می نه شته ستا د زور نه یم

راځه دستر گونه می مه یریږه
سری په ژړا څه ماهی خور نه یم

دی اسویلو ته می ته نه گوری څه
سوی په زړه یم سوی نور نه یم

ستم کوه ته منع کړی چا یی
زه لا خاطر مړی د گور نه یم

ACKU

هرخوکه می د نړۍ قرار ولوله راځی
پوهیږم ولی نه حی قتلولوله راځی

بلبل کړی د ګل وصف که بهار وی که خزان
بورا ته خویی بس یو بنکلولوله راځی

غمونه داشنازه اوس په هیڅ نه هیږوم
ای غمه د دنیا که هیږولوله راځی

ارمانه داشناشه داشناسره میشته
حی زړه له دخاطر ازار ولوله راحی

ننۍ خومانه هسی بله دنیا بنکاری
تا چی نه وینم نوشله دنیا بنکاری

چی په هجر وصال نه پکی پوهیږم
دا دستاده که می خپله دنیا بنکاري

تنګ ګوګل یوه دنیا شی چی ته راشی
بی تا تنګه د ګوګله دنیا بنکاری

هیڅ خاطر دی خزان ونکړه خاطره
څنګه خړه او بی ګله دنیا بنکاري

ACKU

زما چی مدام دغه دلبر ته سترګی دي
نوری نه وینمه سترګی که هر چیر ته سترګی دي

ته تل راته موسیږه په دی عمر مه شه جور
زما خوری ګلفامه دی پر هر ته سترګی دي

له هره ډډه وتلی سترګی می اشنا
که وبنی دی که تږی خودی در ته سترګی دي

په اوښکو می کړه ستره وړه ونه می د عشق
که ګل یی د مخ ریژي خو ثمر ته سترګی دي

د مینی سمندره سترګی غرقی می کړی تا
وتلی می له تا کله بهر ته سترګی دي

دا وچی خیژی بنه وه په وخت مترګه د سبا
زما خو هم ختلی دی سحر ته سترګی دي

خاطره که څو غواړی زړه له تا دیار دیدن
زه نه شم ورکتلی زما نمر ته سترګی دي

څه وکړم چې ستړګی می په تا باندې خوږې شوې
چا ته پورته نه شوې چې دا ستا په لور کږې شوې

وګوره ګریوان می چې وحشت څه تار تار کړلو
نه شلیږې دا ستاد زلفو څرنګه حلقې شوې

اوس خو ستاد مینې افسانه زما په شونډو وده
نوره افسانې می په زړه ګوتې کې ورستې شوې

ستړګی دخاطر خو ستا په ستړګو تیروتلې دي
ګورمه دا بدي که زما په حق کې ښې شوې

چی دا روګډی دلیمو په پیمانو شی
سودیی کله بیا دلب په بهانو شی

که داستا په نوم بد نام یمز پروانه شته
لیونی غږونه تل په لیونو شی

څوچی خدای راکړی نه وی لږ به ژاړم
د خیبر فصلونه تل په بارانو شی

چی د زړه کورله دی راشی پروانه شته
ای خاطره خاطر تل د میلمنو شی

ACKU

ترخوته می زړه کیږی کله کله
په خوږ وخلك مړیږی کله کله

چی اشنا دچانه ورك شی موندی نه شی
ورنه ځان پسی ورکیږی کله کله

په درد منو نظر روغوله پکار دی
که دلاسه دی څه کیږی کله کله

بنکاری یار مرور نه دی ای خاطره
چی لیموکی دی مسیږی کله کله

ACKU

لاخود یار کور ته سفر پاتی دی
چې لږ نظر می د بصر پاتی دی

زه او رخصت له تا په کومو سترکو
لامی د تن د پاسه سر پاتی دی

زاردی د مینې دلمبوځنې زړه
لامی په مینه کې ځیګر پاتی دی

ما خو داسته په سر وطن ګنده
خبر شه اوس رانه خبر پاتی دی

د انتظار دیوی چې تنې نه شی
اوس خو شپه تیره شوه سحر پاتی دی

زه د ریبار په خوله رخصت څنګه شم
دیار خاطره چې خبر پاتی دی

ما په شوګیر تا په خوبو تیره کړه
شپه مو سپوږمۍ ته په ګیلو تیره کړه

بیګا را نه غلی شمع رویه اشنا
ما تولې شپه په وریدو تیره کړه

مینه داسته زما نور زړه سوزوي
هسې لمبه دی په ایرو تیره کړه

دا ما خاطر ستا د خاطرې اشنا
د هجر شپه می په سلګو تیره کړه

ACKU

داسی راته‌گوری لکه نه‌چی راته‌گوری
نیغ می د زرگی وزی کا بزه‌چی راته‌گوری

هغه وخت لږ ډیر وای تا چی مخ را څخه پټ کړو
داسی معلومیږی لکه بنه‌چی راته‌گوری

ته زما د زړه او خپل بنایست نه تپوس وکړه
زه به د سر ته څه وایمه ته‌چی راته‌گوری

کله به د زلفو وریځی لری کړی امر مخه
شلیږی پلوشی بنا یسته بانه‌چی راته‌گوری

نن خو می خاطر وکړه‌چی مه راته‌گوره
زه د سر ته کتی نه شمه ته‌چی راته‌گوری

بیا به مړه گورونن ځوانی ده درومه درومه
اوس څوک کړی دومره غم خو دیوانی ده درومه درومه

اوس ته ایله راغلی چی بس وخت دځنکدن شو
بیا راته گرانیږی اسانی ده درومه درومه

ویل یی چی بازارمی دښایست پیرگرم شوی
هر شی پکی ختلی ده گرانی ده درومه درومه

زه اوته خاطره نوره په څه سره څوارته یو
مینه خوهم دا پښیمانی ده درومه درومه

خوشحالی ستاشوه زه یی نه اخلم
دا ستا غمونه واړه زه اخلم

تا می چی زړه ورو گواه هم نه لرم
اوس به زه تا نه څنگه زړه اخلم

اول سپرغئ وم ستا دمینی داور
اوس په ځان پوه شوم چی لمبه اخلم

په وړاندی ځم په روستو گورم اشنا
زه قدمونه چی واړه اخلم

ژوندی کله نه مارې دي بی دخاورو
نه مارې دی له څارې دی بی دخاورو

چاچی خاوری ځان ګنلی په جهان دی
هغه چرته کی اوده دی بی دخاورو

د انسان سره چی غم ګډ شو نو کلک شو
دیوال کهې بی اوبودی چا دخاورو

دخاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
په دی خرچنیږ کی څه دی بی دخاورو

شاید چې حسن دی اشنا دسر ولمبونه ډک دی
دنړه جهان می دلوګو داسویلونه ډک دی

خوبنه می ستا په بنو غشوده ویشتنه دنړه
ګنی وطن خوهسی یاړه داغزونه ډک دی

نمړمخی مخ ته می له ورایه ناخبر کتلی
نن راته ځکه داجهان دپلوشونه ډک دی

داحسر تونه داغمونه تنګ ګوګل زړګیه
له دی خوګور بنه دی هرڅوکه له تیارونه ډک دی

زړه می یوه دلیونتوب پکی سودا وکړله
بازار دحسن دی له ډیروتماشونه ډک دی

همدمه مه رایادوه داتیری هیری قصی
زما زړګی خو وختنی لا دګیلو نه ډک دی

زما خاطر یی له شکونو له فکرونو ډک کړو
دمخ کتاب دی را له واړه دقصونه ډک دی

تک تورسوی داستا سوی اوربل دی
چی دی اورد بنکلی مخ تری لاندی بل دی

چی خوځم په مخکی لامزل زیاتیږي
اشناستا دی منزل څنګه منزل دی

چی می شک په کومه لار دی سودایی شوم
نو رمی هیڅ موندلی نه دي خو ستا پل دی

چی اشنا دی پکی اوسی ای خاطره
خیبر وګنه حرم که څوشدل دی

ACKU

عاشقان چې معشوقو په لور کاته که
خوتلی نه شی کم طاقته پریواته که

چې پلو د مخه لری کړې رنا شی
لکه ستر گه د سبا چې راخاته که

لږ می عکس د زړه واخله که دی شک وی
چې دا تور بانه دی څرنگه ویشته که

په مین زړه زنکنه ن شی چې یار راشی
په هیبت زړه په گوګل کی الواته که

د خاطر په زړگی داغ د بیلتون گوره
چې دیار په لور کا زه وا زه کاته که

بسکلی مخ ته دی دموم په شان اوبه یم
لکه کانی هسی کلک ورته په زړه یم

چې په کومه لاره لاړ شی زه یې مل وم
لکه ګرد یې هسی خور په هر یو پلر یم

زه په کومو ستر ګو ځان ته بیمار وایم
چې دا ستا نوم اخستی شمه نو بنه یم

لږ دځان سره په زړه کی فکر وکړه
زه خاطر دی چرې یو ځلی په زړه یم

ACKU

گله داستا دخندید وشپی دي
زما داوښکود شیبوشپی دي

داستاځوانی اوداوعدی مه کوه
داتولی شپی دپسرلوشپی دي

د بخت سپوږمۍ ته به راخیژی کله
اوس می دژوند دتربړموشپی دي

دازه خاطر درنه تپوس کومه
دبیلتانه دي نوری خوشپی دي

ACKU

زړه چې مې اشنا ستا د سر تلونه پاتې کیږی
خود به راته غم د خوشالونه پاتې کیږی

د اسپین دیوالونه به سبا وي ټول ګواه
دغه تور لوګی چې د دیوونه پاتې کیږی

پیکی مې زړه د لمن ورځیده لاړ ې
غم دې پکی د هر شود نیوونه پاتې کیږی

باده د بیلتون چې په ستر ګو می رانه شی
ستر ګی می د یار د تماشو نه پاتې کیږی

زړه له می مرهم دی ستر ګو له کجل
خاورې یی خاطره چې د خپونه پاتې کیږی

نه وومه خبر زه تاچی زړه بایللی دی
تا ووې زیبارته پس له دې به ځوراځو

اوښایه ځیګر راته ، اوس د زړګی سر راته
ماکتل رخسار ته ، پس له دې به ځورا-

ماچی کوم ستم کړی ، اوس می په تاکښم کړی
دادځوانی وار په تا نن سبا راغلی دی

څنګه مړی در شم په حال دی نن خبر شم
لاس کی دې رقیب راته دک توپک نیولی دی

شوخاطر غلام دستا ، کړی به احترام دستا
پریی بنده دربار ته ، پس له دې به ځوراځو

چې د ستر ګو دې بنکار زنی زما ستر ګې
چې دې نشی کړې پوښتنی زما ستر ګی

زړه کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کی
چې درګورم شی لمنې زما ستر ګې

مرګ ژوندون دی لږ راګوره د زړه سره
رانه غواړی جور، بخنې زما ستر ګې

ستاد ستر ګو کړې خاطر چې نه درګوري
هسې نه چې دی وارې زما ستر ګې

ننخوږاته مه وایه چې نا اوترسبا
سود مې ساقۍ نه شۍ په مینا اوترسبا

اووایه ربنتیا راته ته زما تعبیر نه یې
وې چې تل په خیال کې مې هغه تصویر نه یې
بله راته بنکاري دا دنیا
سود مې ساقۍ نه شۍ په مینا اوترسبا

ننخوږي راجمع په میوکې کیفونه کړې
ستر ګو پیمانو کې دې رنګ په رنګ ستونه
ګلې دخاطر شه په ربنتیا
سود مې ساقۍ نه شۍ په مینا اوترسبا

سترگی مې نیولې اشنا ستا په رخسارکې
اوبه اوبه شول توریې حې په زمبارکې

ماچې لیدلی ستا دخپوپل دی
غم د وحشت راسره مـــل دی
اوس مشغولا کړم په دغه لارکې

نه د رسیږی نه راته غږ شی
نه را نه زړ شی نه را نه تګ شی
دا څه ژوند ون دی په انتظارکې

یار می د بنکلو سره روان دی
دې تماشې ته خاطر حیران دی
لکه سپوږمۍ وي ستورو قطارکې

شوګیری تولی په سبا کی تیری شولی
پریږده چی وژارم په چغو چغو

ته خواوس لاړی دبل چا شوې
زما دزړه ځنی جدا شوې
زما دعمر شوګیري دی تولی هیری شولی

د خدای د پاره بس لږ راشه
که مروریی راپخلا شه
ستا دراتلو په انتظار می سترګی ستړی شولی

جانانه ستا سترګو پاره
وګوره ماته ښکلی یاره
څومره لمبی می په زړګوتی باندی تیری شولی

خاطره زه ځان ته حیران یمه
که لږ راګوری بس روان یمه
د پیغلتوب ملګری تولی درنه ګیری شولی

په تش دیدن باندی می ورو ورو مشغولیږه
څه مه خفه کیږه بله ورځ به راشم

دهر چا پته پته ستا یارانه کړم
تاله چې درشم زه څه بهانه به کړم
په انتظار کې می دځان سره ژړیږه
څه مه خفه کیږه بله ورځ به راشم
نبنه زما او دستا ماهتابان شوسره
بل می کاروان دستور په کهکشان شوسره
د سبا ئی د خیال خوبونو کې زنګیږه
څه مه خفه کیږه بله ورځ به راشم
کړم داوعدې درسره چې تا به هیر نه کړم
دا یو ساعت به بې تا په نور څه تیر نه کړم
په دې سودا می ویده کیږه راوینبیږه
څه مه خفه کیږه بله ورځ به راشم
ځان ته راتوله دنیا خاطره ما وګنه
پکې می مخ او زلفې بیګاه سبا وګنه
د زړه په مینه می په ستر ګو کې ګرځیږه
څه مه خفه کیږه بله ورځ به راشم

د سبز نه کال ته پرغمونه - د اسی ژوندۀ مرگی ښه دی رادیشینه

الله دې خیر کړي

ستا د مما نو فریادونه هېر به مې نه شی
لکه د زانو قطارونه هېر به مې نه شی

پاس په اسمان کی د جاز و نو سره ځینه

الله دې خیر کړي

د فقیرانو لویه خدایه اخر به تیر شی
تیر خو به شی په لوبۀ تنده اخر به تیر شی

په مصیبت کی خو به یې څوک نه یاد وینه

الله دې خیر کړي

خاطرۀ هغه خلق ستایه په خپل کتاب کې
تل په بار بار یې د اسی وایه په خپل کتاب کې

چا چې سر و نه په وطن ورکړي د ینه

الله دی خیر کړي

وړاندې به می داویل چې کاته به شی
اوس چې په ژوند پوه شوم وایم څه به شی

وایم ستا بهونته د رخمی زړه نه
بس دی که وي داسې نو ساړه به شي

ستا د حسن شمع او د اشوق زما
نه یې پریږدی دواړه سره مړه به شی

نه ومه د داسې جدایی خبر
ماویل په ساعت کې تله راتله به شی

نن وکړه تپوس چې راځه څه غواړې
ماویل چې که راشې نو خوا زړه به شی

هر وخت چې خندا کړی په ژړا زما
زړه خو د خاطر او به اوبه به شی

نن دې اور بل په کوم پلودی - بیا به سونزیږمه زه
اور راته بل دی
دژوند کاروان می دی دغم خړوګرد ونوکې
واوره فریاد می دجرس په آواز ونوکی
تلی دی بل په کوم پلودی
څوبه دهجراوبدی شپی اوداتیاری وینم
سبادوصل به وی لری که نزدی وینم
داستامنزل په کوم پلودی
خاطره نن که دی سم راته کتلی وای
واړه بنایست به دی دزړه ځنې وتلی وای
دکتوچل په کوم پلودی

عادت په داسی تماشو کی نه یم
سپرلیه زه دې په غنچو کی نه یم

داستابانه ستا د رخسار په خاطر
زه دې ګلونو په اغزو کی نه یم

که راکوې نو سم شراب را کـــوه
زه دې ساقی هسی اوبو کی نه یم

اې خدایه بس ما خپله ورځ ولیده
د داسې ژوند په تیریدو کی نه یم

ته ما خاطر ته هسی ست خو وکړه
چې خفه نه شی په درتلو کی نه یم

تیر به داستاد حسن وارشی یاره زما
اخر خزان به دی بهارشی یاره زمـا

چې نه رادرومی اشنا نو وعدی څله کوی
هغه پرون دی څه وې چې نن لا بله کوی
زما یقین ستا په اقرارشی یاره زما

ستر گی می بی له تانه ، دبل په لور نه گوری
بغیر د ستا د مخه مخونه نور نه گوری
مرې به کله په دیدارشی یاره زما

زه دبل چا د مینی اشنا څه طمع نه کړم
زه به داستامینه چا سره سمه نه کـړم
په ما خاطر دې نه اعتبارشی یاره زما

PROPERTY OF ACKU

څه وکړم چې سترګې مې په تا باندې خوږې شوې
چاته پورته نه شوې چې د ستا په لور کږې شوې

وګوره ګریوان می چې وحشت څه په تار تار کړلو
نه شلیږې ستا د زلفو څرنګه حلقې شـــوې

ما خو به ویل چې د استا خوله د پېره اسانه ده
ګرانه شوله ځکه د ومره خولې چې را پسې شوې

اوس خو ستا د مینې افسانه زما په شوند وده
نوره افسانې می په زړ ګوتې کې ورسته شوې

سترګې د خاطر خوستا په سترګو تیروتلی دي
ګورمه دا بدې که زما په حق کې ښې شـــوې

ACKU

Download from:aghalibrary

دچاپ شمیر : ۵۰۰۰ توکه
دچاپ ځای . دلوړو اومسلکی تحصیلاتو مطبعه
دچاپ کال : ۱۹۸۶ ع